آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۹/۰۸

# د نجونو د زده کړو ځنډولو لپاره معقول؟ خو پټ دلایل

د نجونو د ترلو ښوونځیو ستونزه، لکه جړغوټه، د افغانستان د خلکو په مخکې پرته ده او هېڅوک نه شي کولای دا غوټه خلاصه کړي. د دې ستونزې د رامنځته کېدو له پیل نه طالب چارواکو د ښوونځیو د ترلو لپاره ګڼ دلایل وړاندې کړي دي، د دې دلایلو د وړاندې کولو په لړ کې یو لوړپوړي طالب چارواکي نوې څرګندونې کړېدي او ویلي یې دي چې د نجونو د زده کړو ځنډولو لپاره معقول دلایل لرو، خو له چا سره یې شریکولی نه شو.

د تاند په یوه تازه ریوټ کې د دې نوو څرګندونو په باب داسې راغلي دي:

«تاند: (پنجشنبه، د وږي ۹ مه ) د طالبانو د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معین قاري محمد یونس راشد د پکتیا پوهنتون له محصلینو سره په خبرو کې ویلي، چې د دوی رژیم د نجونو د تعلیم بندولو لپاره معقول دلایل لري، خو دغه دلایل له رسنیو سره نه شي شریکولی.

نومړي ویلي:«اوسمهال د نجونو د زده کړو لپاره اسلامي شرایط برابر نه دي، دا چې دغه شرایط څه دي، ډېر ستر بحث دی. شرعي دلایل هم شته چې د نجونو زده کړې بندې شوې دي.»

دا په داسې حال کې ده، چې د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شېرمحمد عباس ستانکزي په یوه وروستۍ وینا کې برعکس نظر ورکړی.

نومړي ویلي: «د ټولو پر مخ باید له کوم توپیري چلند پرته د ښوونځیو دروازې پرانیستل شي. ځکه زده کړې د خلکو شرعي او طبیعي حق دی.»

د طالبانو یوه پخواني مقام عبدالسلام ضعیف ویلي، چې د طالبانو تر ۹۵ سلنه پورې مشران د نجونو د زده کړو پلویان دي.

د طالبانو له بیا واکمنېدو دوه کاله پوره شول، خو دوی تر اوسه له شپږم ټولګي څخه پورته زده کړو لپاره نجونو ته اجازه نه ده ورکړې.

د دوی ویاندویان بیا- بیا ټینګار کوي، چې د نجونو د زده کړو لپاره د یوه « ترتیب» او طرحې په برابرولو بوخت دي.

د نجونو د زده کړو مدافعین بیا وايي، چې طالبانو د تېرې واکمنۍ په پنځه کلنه دوره کې یې هم په ښکاره د نجونو د زده کړو مخالفت نه کاوه، خو د شرایطو د نا برابرولي په پلمه یې پنځه کاله دوی له زده کړو لرې وساتل.

ځینو دیني عالمانو بیا د طالبانو مشران ننګولي، چې د نجونو د زده کړو په اړه ورسره مناظرې ته حاضر شي.»

اوس سړی هک‌حیران شي چې دا نوی خبر یا نظر څه ډول شرحه کړي، ځکه دا نظر هم ګونګ دی او هم نابشکاره، وګورئ: «د نجونو د زده کړو ځنډولو معقول دلایل لرو، خو شریکولی یې نه شوو.»

چې د نجونو د د ښوونځیو د ترلو لپاره خپل دلایل له خلکو سره نه شئ شریکولی، نو خلک به څه پوه شي چې ستاسو دا معقول دلایل څه او څومره دي چې هرڅه یې په ټپه درولي دي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د طالبانو د دويمي واکمنی له پیل نه تر نن پورې چي څه باندي دوه کاونه کېږي؛ د افغانانو او بهرنیانو له خوا په وار ـ وار د نجونو د ښوونځيو پر بیا پیل کېدو ټینګار شوی دی. څو ورځې د مخه د بریتانیا د سفارت شارژدافیر روبیرت ډیکسن، چي په دوحه کي خپل کارونه تر سره کوي، په کابل کي یې له طالب چارواکو سره په لیده کي یو ځل بیا د نجونو د ښوونځيو د پرانستني موضوع یاده کړې. دغه راز په همدې نږدې څو تېرو ورځو کي په کابل کي د جاپان سفیر تاکاشي اوکادا د طالبانو د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر امیرخان متقي سره په خبرو کي د نجونو د ښوونځيو پر بېرته پیل کېدو ټینګار کړی دی او ویلي یې دي چي: د نجونو زدکړه او د ښځو فعالیت ډېر مهم دی.

د بي‌بي‌سي په رپوټ کي له طالب چارواکو سره د یادو ډیپلوماټانو خبرو ته داسي اشاره شوې ده:

«په افغانستان کي د بریتانیا د سفارت شارژدافیر روبیرت ډیکسن، چي له دوحې خپلي چارې تر سره کوي، کابل ته له تللو وروسته ویلي، دا لیدنه یې د نجونو او ښځو په ګډون د ټولو افغانانو لپاره د مثبت راتلونکي ملاتړ لپاره د بریتانیا ژمنتیا ښيي.
بل لور د جاپان سفیر تاکاشي اوکاډا په افغانستان کي د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو له وزیر امیر خان متقي سره په یوه لیدنه کي د نجونو پر زدکړو او د ښځو د فعالیت پر اهمیت ټینګار کړی.
د یادونې ده، چي د بریتانیا سفارت چارسمبالي پرون او د جاپان سفیر نن کابل ته سفرونه کړي او دواړو لوړپوړو ډیپلوماټانو په افغانستان کي د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو له وزیر امیر خان متقي سره لیدلي دي.
ښاغلي ډیکسن له کابله ستنېدو وروسته د ټویټر پیغامونو په یوه لړۍ کي ویلي، کابل ته د تلو هدف یې په اوسنیو شرایطو کي د مخکي تګ یوې لارې موندل و.
د رابرټ سي ډیکسن په وینا افغانستان اوسمهال په نړۍ کي له سختو بشري کړکېچونو نه له یوه تېرېږي، ۲۸ میلیونه افغانان بشري مرستې ته اړتیا لري، اقتصادي وضعیت خواشینونکی ښکاري، لامل یې د تېرې نژدې نیمې پېړۍ کړکېچ او وچکالي دي، چي اقلیمي بدلون لا پسې سخته کړې.
رابرټ، سي، ډیکسن وایي، طالبانو ورته ویلي د مخدره توکو مخنیوي، امنیت ټینګښت او فساد مخنیوي لړ کي یې پرمختګ کړی، خو نوموړی وایي، په زغرده یې طالبانو ته ویلي " موږ د هغواقدماتو په هکله چي له ښځو او نجونو حقونه په تدریجي ډول اخلي، سخت اندېښمن یو."»

دغه راز ښاغلی عبدالوحید وحید په ډېره نرمه ژبه تل د نجونو د زدکړو د حق په باب د خپلو لیکنو په ترڅ کي موضوع مطرح کړې ده. ده په خپله یوه مقاله کي په لنډ ډول د نجونو د زدکړو مخنیوي ته په انتقادي ژبه داسي اشاره کړې ده:

«متأسفانه د علم پوهي ساینس ټیکنالوژي، کمپیوټر انټرنیت، مصنوعي ځیرکتیا، خلائي تسخیر، فضایي بېړیو او ساینسي پرمختګونو په اوسني ډګر کي موږ په هغه ځای کي قرار لرو چي د خپلي اشرف المخلوقات ټولني نیمه برخه مو د توپک د شپیلی په زور له زده کړو څخه منعه کړې، معاصرې زده کړې مباح او غیر ضروري ګڼو، حکومت کول امنیت تامین یوازې د سوټي په زور د تحقق وړ ګڼو...»

نرګس مومند حسنزی د زړه له درد سره مل د ټرلو ښوونځیو د غمیزې په باب داسي ویلي دي:

«د حاکمو چارواکو دریم کال پیل شو خو د ښوونځیو د خلاصون هیڅ نښه نشته او (امر ثاني) په (امر دایمي) اوښتی دی.

د علم او ټکنالوژۍ په دې بهیر کي د هیواد د نجونو پر وړاندې د رڼاګانو د دروازې د ټړلو نن ۷۰۰ شرمناکي ورځي تیري شوې.

دا یو نه جبرانیدونکی زیان دی او د افغان ولس د راتلونکي څو نسلونو سره نه جبرانیدونکی خیانت چي په هیڅ ډول د توجیه وړ ندی.»

خو له دې ټولو غوښتنو او نظرونو سره ـ سره، نه څوک خبره اوري او نه هم عمل پرې کوي. د تعلیم په ډګر کي زموږ د وطن پر نجونو او د هغوی پر کورنیو باندي حالت دومره بد شوی دی چي د وطن یو پوهاندی ته رسېدلی تعلیم یافته شخص نه شي کولای خپله لور د ښونځي تر ودانۍ پورې بوزي. دا د یو پوهاند پلار یو وړوکی لیکلی د زړه حال دی:

«لورکي مي راته کړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

ابه جان! د ښوونځي ودانی مي يادېږي، يو ځل نه ورځو؟

ما ورته کړه:

زړګی موټر مي وران دی، په پښو کي مي هم سيک نشته، يوازې هم نشي تلای، نو دا به څنګه شي!

په ډېرې ناهيلی يې راته کړه:

بيا نو هيڅ...»

د طالبانو د دويم ځل واکمنېدو د دويمي کليزې په مناسبت بي‌بي‌سي پښتو د طالبانو د مشر ملا هبت‌الله د ژوند په باب د « د طالبانو د واکمنی دوه کاله: د مولوي هبت الله اخوندزاده ورځنی ژوند او فکر؛ له څه وېره لري؟» ترسرليک لاندې يو رپوټ خپور کړی دی چي په هغه رپوټ کي د ملاهبت‌الله د ورځني ژوند او کاري پروګرام پر ځينو اړخونو رڼا اچول شوې ده. د ياد رپوټ په ترڅ کي د نجونو د ښوونځيوو ستونزې ته داسي اشاره شوې ده:

«... د شيخ صيب [د طالبانو رهبر] يوه تر ټولو ستره وېره د ديني عالمانو ترمنځ تصادم" يا ټکر دی. دا خبره لږ تر لږه دوو کسانو چي نوموړي سره ډېر ليده کاته کوي، په مرکو کي وکړه.
په افغانستان کي ګڼ ديني عالمان آن د طالبانو د حکومت ځيني پلوي هغه هم د نجونو زدکړو او ځينو نورو مسايلو په اړه د ښاغلي هبت الله د دريځ سخت مخالف دي.
د يوه مرکه شوي طالب چاروکي په وينا، "شيخ صيب د نجونو ښوونځيو په اړه له دې اختلافه وېره لري چي د عالمانو ترمنځ يو د بل پر ضد فتواوو ته لار جوړه نه کړي، نو ځکه دې موضوع کي احتياط کوي."
د ځينو مرکه شويو په باور، د ښاغلي هبت الله يوه بله وېره دا هم ده چي که د نجونو زدکړو او کار ته اجازه ورکړي، ښايي د طالبانو په خوځښت کي "د ځينو توندلارو ملايانو د لارې بېلېدو سبب شي. نو د هغوی د قناعت لپاره د ښوونځيو پرانيستل ځنډېږي دي.
اوس نږدې ۷۰۰ ورځې وشوې چي د ښاغلي اخوندزاده په امر له شپږم پورته نجوني له ښوونځيو راګرځول شوي او لا هم روښانه نه ده چي په دې اړه يې فکر بدلېږي او که بدلېږي نو کله.»

اوس خپله اټکل وکړئ چي په افغانستان کي د ميليونونو نجونو او ښځينه محصلينو د زدکړو او راتلونکي ژوند برخليک ټاکل د چا په لاس کي دی او د چا د کومو تضادونو دروند پېټی د افغانستان د مظلوم ولس پر اوږو اېښودل شوی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ